NGO WORKING GROUP ON WOMEN, PEACE AND SECURITY
A Project of Tides Center
777 United Nations Plaza, New York, New York 10017
(+1) 212.557.7298
www.womenpeacesecurity.org

**CHECK AGAINST DELIVERY**

**آغلی زرقا یفتلی،**
**د ښځی، سوله او امنیت په اړوند د ملګرو ملتونو د امنیت سازمان آزاد بحث.**
**۲۹/اکتوبر/۲۰۲۰ زیږدیز**

جلالتمآب د غونډی رئیس او د مدنی ټولنو ملګرو.

زه زرقا یفتلی یم د ښځو او ماشومانو د حقوقی مؤسسی اجرائیه رئیسه.

دا مؤسسه ښځو او انجنو په وړاندی د تاوتریخوالی او تبعیضونو آمار او ارقام مستند کوی.

زمان د نن ورځی وینا د مدنی ټولنی د همغږی ګروپ په استازولی چی د ښځی، سوله او امنیت تر عنوان لاندی ترتیب شوی وړاندی کوم.

مننه کوم دا چی ما ته مو فرصت راکړ. په دغه تاریخی ورځ کښی د ۱۳۲۵ پریکړه لیک شلمه کلیزه لمانځو او د تاریخ پدغه حساسه مرحله کښی چی د افغانستان د دولت او طالبانو ترمنځ د څلویښت کلنی جګړی د پای ته رسولی خبری اتری پیل شوی دی.

مردګی، بمونه، ظلم، تاوتریخوالی، دماشومانو ولګه، د خلکو منډی د ژوندانه لپاره، د ښځو ویره د کور څخه دوتلو، د وطن څخه کډه کیدل سره ددی چی د بیرته ستنیدو تمه هم نه لری، طبیعی افات، فقر، بیوزلی دا د نن ورځی افغانستان دی.

جناب / د غونډی رئیس.

مونږ پداسی یو ځای کښی ژوند کوو چی د مرګ په خندق شهرت لری د یو لک څخه زیاتو انسانانو د تیرو لسو کالو په موده کښی خپل ژوند دلاسه ورکړی او وژل شوی دی او همدا اوس چی زه وینا کوم دغه وژنه روانه ده.

تاوتریخوالی پر ښځو او انجنو ناوړه اثرات لری. د نیم څخه زیات وګړی د فقرد خط لاندی ژوند کوی او ښځی تر ټولو ډیری زوریږی.

او یاسلنه ښځی بی سواده دی. ۳۵٪ پنځه دیرش سلنه انجنی د ۱۸ کلنی څخه مخکی په جبری ډول ودیږی ۸۷٪ اوه اتیا سلنه ښځی په یو ډول آزار او تاوتریخوالی سره مخ دی. روغتیایی آسانتیاو نه شته په خاصه توګه په لری پرتو سیمو کښی ښځی او انجنی د هغه څلور میلونه ګډوالو ډیره برخه ده چی بی ځایه شوی دی، دا ټولی ناخوالی د کوید ۱۹ په راتګ سره څو چنده شوی دی نه یواځی دا چی ځانی زیانونه یی اړولی، معلولینو او ګډوالو ته خطرونه ور زیات کړی دی.

ددی ترڅنګ د مدنی ټولنی فعالین د تهدیدونو او زورولو سره مخ دی او د دوی د ساتنی لپآره هیڅ رنګه لازم تدابیر شتون نه لری، د سپتمبر په میاشت کښی د امریکا سفارت ښځو ته د تهدید په شتون خبر ورکړ هغه ښځی چی په مدنی ټولنو، دولت او یا رسمی ادارو کښی دندی تر سره کوی.

ددی ټولو ناخوالو سره بیا هم ښځی او خلک نه ستړی کیدونکی هڅی کوی تر څو هیواد د سوکالی په لور بوزی. نن ګڼی انجنی بی له ویری مکتبونو ته ځی، مونږ د شمسیه چی د سکرو په کان کښی د یو عادی کارګر لور ده د کانکور په امتحان کښی لمړی درجه اخستی، مونږ آزادی رسنی او اساسی قانون لرو چی د ښځو د حقونود قومی او مذهبی اقلیتونو ساتنه کوی. نور ښځی د کابل په ستیډیم کښی نه وژل کیږی او د تیرو کلنو په شان په کورونو کښی نه بندی کیږی او د څادری او جګو بوټانو په اغوستلو نه زورل کیږی.

نن افغان ښځی د شخصیت او عزت خاوندانی دی او د ژوند په هر ډګر کښی ځلیږی. ډاکترانی، د ټکسی چلوونکی، فلم جوړونکی، د وزارتونو رهبری کوونکی دی. مګر د طالبانو په دور کښی ددغه ټولو څخه محرومی وی. حتی د تعلیم د حق څخه، د کارکولو د حق څخه او د آزاد تګ راتګ څخه، نن ښځی د رهبری په لوړه کچه د پالیسی په جوړولو او د هیواد په راتلونکی تشکیل کښی سهم او ونډه لری.

دا ټول مثبت بدلونونه د ښځو د عدالت غوښتنی په نتیجه کښی چی په تیرو دوو لسیزو کښی یی کړی رامنځ ته شوی. د ښځو موثره ونډه په ټولنیز او سیاسی ژوند کښی په کلتوری ډګر کښی بدلون رامنځ ته کړی دی. نن افغانی ټولنه تمه لری چی د هیواد ښځی د یو ښه راتلونکی په لور سوق کړی.

ښاغلی رئیس: مونږ دغه لاسته راوړنو ته په کم نظر نه ګورو.

د دغه لاسته راوړنو سره ، مونږ پوهیږو چی دغه لاسته راوړنی زمونږ د اطلاع پرته وانه خیستل شی. د طالبانو د دور ترخی خاطری تر اوسه د طالبانو ترولکی لاندی سیمو کښی ادامه لری او همدا سخت قوانین دی چی د هغه سیمو د ښځو ژوند جوړوی. په ځینو سیمو کښی یو

محدود تعداد انجنی مکتبونو ته ځی، د بیان آزادی ډیره کمه ده، د طالبانو لخوا تعین شوی جزاګانی ډیری سختی دی او د تیښتی لاره نشته او دا د ژوند برخه شوی ده.

ز مونږ نسل د هغه تیل شوی جګړی چی پخپله پکی هیڅ رول نه لرو ددی جګړی اثرات د افغانستان بهره هم موجود دی د منطقی هیوادونه او حتی اروپایی هیوادونه، ستاسی ډیری هیوادونه مونږ ته په خپلو خاورو کښی د داخلیدو اجازه هم نه راکوی. مونږ هم نه غواړو چی له خپل هیواده ولاړ شو. مونږ ټول افغانان غواړو چی دغه ورانوونکی جګړه ختمه شی.

تر څو خلک په عزت ژوند وکړی، یو ټول شموله حکومت د ټولنیز او اقتصادی عدالت په اساس رامنځ ته شی او د بشر حقونو ته درناوی وشی.

ښاغلی رئیس، سوله د ښځو د حقونو په قیمت نشی حاصلیدای، ز مونږ ټولی لاس ته راوړنی د حکومت او طالبانو ترمنځ د خبرو اترو پوری تړلی دی، د رسمی بین الافغانی خبرو اترو پیل د سپتمبر په میاشت د سولی لپاره یو اساسی ګام دی مګر په تعویق ولیدل یی د تشویش وړ دی. د څلورو ښځو شتون د دولت په ټیم کښی مثبت دی خوبسنه ندی. د ۲۰۰۵ تر ۲۰۲۰ کاله پوری د ښځو نه شتون د سولی په پروسه کښی روښانه نه دی، په حدود د ۸۰٪ اتیا سلنه ښځی ددغه پروسی څخه لیری پاته دی او هغه هم د طالبانو د هغه موقف په اساس چی د ښځو د سیاسی او ټولنیز حضور په اړه یی لری. د مذاکراتی ټیم په یوی ښځینه غړی برید د تشویش وړ دی. مونږ له دی ویره لرو چی د ښځو د حقونو موضوع د برد او باخت آله نشی. اګر چی ز مونږ ډیر اساسی حقونه ترپښو لاندی شوی دی او ز مونږ له سهم انکار کیږی مونږ له تاسی نړیوالی ټولنی هیله کوو، د منطقی او د منطقی اخوا او نړیواله ټولنی چی خپل مسئولیت ادا کړی او دواړه خواری د طالبانو په شمول چی ز مونږ د تبعی حقونو ، مدنی آزادیو، او لاسته راوړنو منصرف نه شی. ستاسی فشار په دواړو خواو موثر دی. تاسی زمونږ له هیواد سره مهمی مالی مرستی کوی تاسی کولای شی چی د ښځو د حقونو ملاتړ وکړی او د ښځو په مستقیم ونډه په سوله کښی او په راتلونکی نظام کښی فشار وارد کړی.

تر اوسه واضحه ده چی د سولی پدی پروسه کښی ښځی په حاشیه کښی دی او حتی داچی دولت هم پکی شامل نه ؤو. د ښځو ونډه د سولی په پروسه کښی ډیره مهم او ضروری دی.

د امنیت شورا هر کله د ښځو د حقونو ملاتړ کړی په تیرو شلو کلونو کښی. او پدی حساسه شیبو کښی هم هیله کوو چی دغه رول څخه ګټه پورته کړی او خپل ملاتړ ته ادامه ورکړی. د اوربند بیړنی غوښتنه کوو د مذاکراتو د بریا لپاره دواړه خواوی باید وسلی په ځمکه کیږدی او جنګ بس کړی. د ښځو په حقونو او د هغوی په شرکت د سولی په مذاکراتو کښی چی د بشر د حقونو په موضوع د ټولو پرګنو په شمول باید بحث او نظر غوښتنه وشی. نړیواله ټولنه باید د ښځو د حقونو په شامله او کامله توګه ملاتړ وکړی او د ښځو معنا لرونکی رول ته په سوله کښی په سیاسی او مالی توګه د سولی د معاهدی د لاسلیک وروسته مرسته وکړی.

د ښځو ملاتړی پدی معنی دی چی دوی وکولای شی په فعاله توګه برخه واخلی. د دوی رسمی او مستقیم ګډون په ټولو برخو کښی د ملګرو ملتونو په نورم کښی په افغانستان کښی د سولی لپاره باید شامل وی.

د ښځو د حقونو د ملاتړ په اړه د اساسی قانون د ټولو مادو ساتنه:

د بشر د حقونو ټولی مادی د سیاسی، اقتصادی او ټولنیزو حقونو په شمول چی د اساسی قانون په دویم فصل کښی درج دی باید پرځای پاته شی او مذاکره کوونکی خواوی نه چی پدغه اړه د بیری کار واخلی او دا له نظره و غورځوی.

د ټول شموله نظارت شتون: دا یو مهم کار دی چی د ټول شموله نظارتی کمیټه جوړه شی، د ملګرو ملتونو، ذیدخله هیوادونو، مدنی ټولنی او رسنی چی باید د سولی د پرمختګ څارنه او د هر رنګه سرغړونو په خاصه توګه د ښځو د حقونو څخه راپور ورکړی.

د سولی په ټولو موضوعاتو، امنیت، نړیواله پالیسی نړیواله قوانین د ښځو د ونډی په اړه.

د سولی په پروسه کښی: د سولی په ټولو برخو کی بشری حقونه تضمین او خوبندی شی. او د مالی مرستو ورکړه د بشری حقونو، د تعلیم د حق لپاره ښځو او انجنو ته تضمین کړای شی.

د ښځو د رهبری د ساتنی، د سوله غوښتونکو ښځو د ښځو د مدافعانو د محافظت او ساتنی اطمینان: د ټولو خطرونو او ګونو په وړاندی ساتنه چی د ښځو په وړاندی د سولی د پروسی په نتیجه کښی رامخ ته کیږی.

د طالبانو سره د هر رنګه معاهدو په صورت کښی د ښځو حقونه باید خوندی وساتل شی.

د ۲۰۰۵ کال په اکتوبر کښی آغلی سویتا نوری لمړی افغان میرمن وه چاچی پدغه شورا کښی غږ جګ کړ او ښکاره یی کړه چی د ښځو ونډه د سولی په پروسه کښی د ژوند او مرګ مثال لری. هغی دا جوته کړه چی نړیواله مرستی باید ونه دریږی ترڅو چی تلپاته سوله نه وی راغلی، تیر کال آغلی جمیله افغانی په نړیواله ټولنه یوځل بیا غږ وکړ چی د افغان میرمنو ترځنګ و دریږی او نه باید د ښځو حقونه د سولی په نام پری سیاسی لوبی وشی.

نن چی زه لسمه میرمن یم چی پدغه شورا کښی د مدنی ټولنی په استازیتوب خبری کوم زه هم په خپل وار وایم چی ستاسی رول په افغانستان کښی تر بل هر وخته مهم دی.

د شلو کالو په موده کښې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ونشو کولای د افغان ښځو د ژوند حقیقت بدل کړي مونږ تنها نه یو مونږ له تاسې عمل غواړو، مونږ د یمن، سوریې ډې ارسی، سوډان او نورو ښځو په شان د ملګرو ملتونو د امنیت شورای څخه د اساسی رول په خاصه توګه د ۱۳۲۵ پریکړه په اړه غوښتنه کوو.

ځکه مونږ ټولې ښځې د یو شانته ننګونو سره مخ یو، ترڅو وکولای شو د خپلو هیوادونو د ژوندانه په هر اړخ کښې ونډه ولرو.

مونږ افغان ښځو ډیری جګړې ولیدی، او نه دا چې متضرره شو بلکه مونږ د خپلو حقونو لپاره کالونه دی چې مبارزه وکړه اوس هم چوپ نه پاته کیږو ترڅو لاس ته راوړنی مو او به یونیسی او له تاسې هم غواړو چې فقط تماشا و نه کړی بلکه زمونږ د حقونولپاره زمونږ ترڅنګ اوسی.

مننه.

*The NGOWG on Women, Peace and Security advocates for the equal and full participation of women in all efforts to create and maintain international peace and security. NGOWG members include: Amnesty International; CARE International; Center for Reproductive Rights; Consortium on Gender, Security and Human Rights; Cordaid; Global Justice Center; Global Network of Women Peacebuilders; Global Partnership for the Prevention of Armed Conflict; Human Rights Watch; International Alert; MADRE; Nobel Women's Initiative; OutRight Action International; Oxfam International; Refugees International; Women Enabled; Women's International League for Peace and Freedom; and Women's Refugee Commission. The NGO Working Group on Women, Peace and Security is a project of the Tides Center.*